دمحمد عمر ننګيار ليکنه

# چاغ ښکار

ټکنده غرمه  وه ګرمۍ ډېر په عذاب کړی وم ومې غوښتل چې ځان ژر کورته ورسوم دکار ځای ته نژدې دکان نه مې يو بوتل سړې اوبه واخيستې موټر جلو ته کيناستم مخ په کور روان شوم دلارې په اوږدو کې مې تنده ډېره شوه بوتل مې خلاص کړ او ښه ښآيسته ځو غړپه مې ترې وڅښل په همدې وخت کې د ترافيک دمامور دتوقف يا دردېدو اشارې مې پام را واړو بيرک ته مې پښه ورووړه دسرک ښې خواته مې موټر ودروه، ځان سره مې چرت ووهه لکه چې کومه خلاف رفتارې مې کړې ده!!پوه نشوم دمعمول سره مې سم ټول اسناد دښاغلي ليدوته چمتو کړل، دی چې شل ديرش ګامه له مانه ليرې را روان وراورسيد وروسته له سلام څخه يې راته وويل(پژاليسته داکومنت...) مهرباني وکړئ اسناد مو راکړئ.

په درنښت مې اسناد ورکړل،خو ده اسناد هډو ونه کتل په ترخه ژبه يې رانه تپوس وکړ:خبرې کولای شې؟

ما ورته ځواب ورکړ:ګونګی نه يم.

هغه راته ښه په ځير وکتل او بيا يې په خندنی ژبه وويل:

-پوهېږم ،خو د خبرو کولو حوصله نه لرې.

ما ورنه وپوښتل :ولې؟

ده په قهرجن غږ ځواب راکړ:

-دولې ځواب به په محکمې کې واورې.

زه حيران شولم چې خدايا په کوم جرم بيا محکمې ته مې خبره ورسيده؟

تپوس مې وکړ:

-جرم مې څه دی؟

په تندۍ يې ځواب کړم

-ته لا په جرم دې نه پوهېږې؟! معلومه خبره ده چې په دې حالت انسان په ځېل جرم نه پوهېږي،کله دې چې سر سوړ شو بيا به پوه شې.

همدا يې وويل او خپل انډيوال ته چې دسړک بلې خواته يې موټر درولی و ورغږ کړ:

-هغه خوشې کړه دلته راشه.

ملګری يې په ژبه پوه شو دهغه موټر چلونکي اسناد يې وروسپاره او ګړندی يې مونږ ته ځان را ورسوه،همدا چې را نږدې شو په خندايې رانه تپوس وکړ:

دې ګرمۍ ته وګوره او بيا ستا څښلوته..څومره به دې څښلي وي؟ سترګې خودې وايي چې ښه پرېمانه.

دروازه مې خلاصه کړه وربښکته شوم داچې په يوه پښه څه معيوب وم يو دوه ګامه مې چې ور واخيستل چټک يې دلاسه ونيولم او بيرته يې دموټر د شاتني دروازې دلارې موټر ته ننيستم او په قراره يې راته وويل:

(ګراژدانين) همښاري(وطنداره)اوس خو هر څه ثابت دي څنګه دې خوښه ده..جوړېږو؟ پوهېږې جرم دې درونډ دی او سزايې هم ښه درنده ده.

**خدای شته وارخطا شوم چې دا په څه بلا واوښتم؟!په داسې حال کې چې وېرې مې غږ لړزوه  ترې مې بیا تپوس وکړ:**

**-صاحبانو ،تاسې ولې ... راته ... نه وایئ چې ... جرم مې څه دی؟!**

**داچې زما په غږ کې یې لړزه او ویره احساس کړه نور هم زړور شول او په کټ کټ یې وخندل بیا یې په خندنی بڼه را ته وویل:**

**-لکه چې ډېر هوښیار در ته ځان ښکاري؟!... بې عقله ... مونږ سره لکه چې ټوکې د ې پیل کړي؟!په لاره تلی نشې سترګو ته دې وګوره او بیا هم تپوس کوی چې  جرم دې څه دی؟!**

**پوه شوم دا چې زما سترګې په ګرمئ کې طبیعتا سرې کیږي او په یوه پښه څه ګوډ شانتې یم،دوی تیر وتې دي او بل ګومان یې کړی دی،ما هم ځان ورته برګ کړ ددوی غوښتنې مې ونه منلې نور یې ماته تمعه پاتې نشوه.نو بیایې ځو پآنې تورې کړې او روغتون امبولانس ته یې تلفون وکړچې زمونږ په پټې راشي، ځنډ شیبې وروسته،امبولانس را ورسیده او دوی لکه بریالي  وطنپال د واټ موظفینو په څیر زه دامبولانس صحي کارکونکو ته ورو‌پیژندلم هغو هم په لومړي لید کې څه د طمعې او توقع سترګې راواړولې  خو زما له خوایې کوم شین ځراغ ونه لید په چټکئ یې لازمې معاینې پیل کړې ډېر ژر دې نتیجې ته ورسیدل چې زه مجرم نه یم کله چې صحي کارکونکو نتیجه دوی ته وښودله،پرته له څه ویلو ځخه  یې زما اسناد راکړل،زه دخپل موټر جلب ته کیناستم،په داسې حال کې چې ما ته یې دلاسه وتلي ښکار په سترګه کتل په خپلو کې سره په بحث اخته شول وروستي خبرې مې ترې داسې واورېدې:**

**-(دورک) احمقه ولې دې رانه هغه بل موټر خوشې کړ؟دهغه چلونکي  لایسنس تقلبي و.**

**بل یې په خپه غږ ځواب ورکړ:**

**دا ښکار راته چاغ ښکارېده.**

**ما خپل د اوبه بوتل په سر را وړو ځو غړپه مې ترې وڅښل او ترې روان شوم،ښکاریان پاتې شول نوي ښکار ته.**